مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد نعمان دوست

۲۰۲۱/۱۲/۳۱

# الغیاث دی، الغیاث دی، الغیاث!!!

رحمان بابا ملنګ او صوفي و. د هغه په دور کې مغول واکمن وو. مغولو په یوه نه یوه پلمه هغه پښتانه قتلول،چې خطر یې ترې محسوساوه. خو د نن په څېر د قتلونو بازار تود نه و. رحمان بابا په زړه نازک و. هغه (آیینه دل) و، نو ځکه خو (زود رنجه ) و. بابا د مغلو ظلم په تنګ کړی و او دې زړه تنګ والي ورته ښکلی پېښور د ( ګور) په څېره ښکاره کاوو.

بابا په همدې دور کې په یوه بله پېښه برابر شو. په لیدلو یې دواړه لاسونه په سترګو کېښودل. دې پېښې بې سُده کړ، دومره بې سُده چې د قیامت ګومان یې پرې وکړ او بې اختیاره یې ناره کړه:

عالم وایي چې قیامت به په جمعه وي
ولېـدل مـا پـه یـکـشـنـبـه پــه دا دوران

دا د ۱۱۲۲ هـ کال واقعه وه، چې رحمان بابا وربانديې د قیامت ګومان وکړ. د تاریخونو په حواله واقعه داسې وه: جمالخان چې د مومندو له خدرزي ځانګې څخه و، د خپل قوم مشر وټاکل شو. دا مهال د کابل والي ناصر خان و. دې والي جمالخان سره دوستانه اړیکې لرلې. جمالخان چې کله مشر وټاکل شو، نو د خپل یو سیال عیسی خان کلی یې لوټ کړ. له دې لوټ نه وروسته عیسې خان د خپل کسات اخیستلو په لټه کې شو او فرصت ته منتظر و. څه موده وروسته د جمالخان د زوی واده تیار شو، هغوی د واده په خوشحالیو کې وو، عیسې خان له دې فرصت نه ګټه پورته کړه، خپل ملګري یې راغونډ کړل او برید یې پیل کړ. جمالخان مقابله ونشوه کړای او په ژوبل ځان خپل کورته ننوت. عیسې خان د خپل سیال کور ته اور واچو او د دې کورنی شاوخوا ۸Û ° غړي یې لولپه کړل. دا واقعه د رحمان بابا په دور کې وه، په زړه باریک رحمان بابا ونشوه زغملی، د جمالخان پخواني ظلمونه ترې هیر شول، د هغه په مظلومیت یې وژړل او په ژړا کې یې وویل:

چې لـه آلـه، لـــه اولاده ســره وســول
خدای دې نه کا څوک دا هسې مظلومان

رحمان بابا شاید داسې فکر کاوه چې دا به پښتون قوم کې د ظلم وروستۍ ننداره وي، له دې پورته به نور څه ونشي.هغه څه خبر و چې په دې قوم به داسې نادودې وشي چې جمالخان به له خلکو هیر شي؟ بابا! ته خبر یې؟ اوس دلته هره ورځ قیامت دی. په هر متر کې یو عیسې خان ولاړ دی او کورونه لولپه کوي. بابا! زموږ حالت له هغوی هم سخت دی. زموږ عیسی خانان ستا له دوره هم سخت زړه دي.

هغه یوازې د خپل سیال کور لولپه کړ، خو دوی زموږ ډېرو کورونو ته اور اچولی.هره ورځ مو کورنی لولپه کوي. بابا! د یکتیاوال پلار له مرګه خبر شوې؟ بوډا پلار چې کله د خپلو څلورو زامنو جسدونه په یو وخت کتار ولیدل، زړه یې وچاودید. نور یې ژوند ونشو کړای، له خپلو زامنو سره یو ځای شو. بابا! د کندهار له خاکریزه خبر شوې؟ ډک موټر کسان ټوټه – ټوټه شول. دوی د یوې کورنی غړي وو. زیارت ته تلل، شاید وطن ته یې سوله غوښته. شاید



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

د خپلو نیمګړو ارزوګانو د پوره کولو دعا ګانې یې کولې. بابا! تا د دغې کورنۍ د یوه مشر خبرې واورېدې؟ هغه، خپلو مړو ته خپه نه و. هغه دې ته نه ژړلې چې د کورنۍ ۱۱ غړي یې ټوټه شول. هغه دې ته نه ژړل چې د خپلو اولادونو خواره واره جسدونه یې مخکې انبار وو، دا ورته یوه تکراري پېښه وه. پوهیږې، هغه په ژړا کې څه ویل؟ بابا! هغه ویل: څوک هم نه رانږدې کېدل، زنانه بې سیرته وې. ټولې غوښې مې خپله راټولې کړې. بابا! کابل کې هم، همدا حال و، هلته هم پر سړک پرې شوې اندامونه نا محرمو خلک ولیدل. بابا! لغمان کې هم همداسې شول، د یوې کورنۍ ټول غړي ټوټه ټوټه شول. هلته هم د میرمنو او ماشومانو غوښې خورې ورې پرتې وې. بابا! دا مې یوازې د نږدې وخت کیسې درته وکړې. دلته هره ورځ همدا حال دی. بابا! تا ویلي و: و دې زمکې، و اسمان و ته عجب یم + چې نه زمکه په نارو شوه، نه اسمان هم دې لویو، لویو غرونو ته حیران یم + چې ونه لوښته له وېخه سرغلطان مورې هم حیران یوو، خو مورې غرونو او زمکې ته حیران نه یوو، مورې هغو خلکو ته حیران یوو چې له لاسه زمورې د خلکو دغه حال دی.

بابا!

که ژوندی وای، نو تا به هم مورې غوندې یوازې اوښکې تویولې. جسدونو ته به دې کتلې او په ژړا – ژړا کې به دې دا اشعار زمزمه کول:

الــغـیــاث دی، الــغـیــاث دی، الــغیاث
چــې انسان کــا هسـې ظـلـم پــه انسان

هزار حیف دی چې دا هسې رنګه چارې
واقــع کــېـږي د دنـیـا پـه سود و زیان

محمد نعمان دوست، جلال آباد


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ